پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۰٦

# د افغانستان دائمی بیطرفي

خپرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**شپږمه برخه**



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

# د الکسندر مړینه

الکسندر د ناروغی له یادي نېټي وروسته تر نورو څوارلسو ورځو پورې د جسمي ناتواني او ضعف له کبله وکړېدهٔ او د ۳۲۳م.ز. کال د جون د میاشتي په لسمي یا یولسمي نېټي ئي د پریمانه عذابونو او دردونو په غبېږ کي سترګي د تل لپاره پټي کړې. بي بي سي په ۲۰۰۳ز کال کي یو مستند فلم خپور کړ، بي بي سي د الکسندر د تدریجي مرګ نښې او علائم د «ډاکټر لیو شیپ *Dr Leo Schep* » د تشخیص له مخې را اخیستي دي، نوموړی ډاکټر وایي چې د الکسندر د مرګ عامل د یوهٔ نبات د زهرو له کبله وو او دا بوټی خربق ابیض یا سپین خربق (وراترم البم Veratrum Album ) وو؛ بي بي سي د ډاکټر لیو شیپ دا نظر په ۲۰۱۴ز کال کي د طبي ژورنال د زهر پېژندني یا تاکسیولوژی په برخه کي له خپریدلو وروسته را اخیستی دی. د ډاکټر لیو شیپ دا نظر کټ مټ له هماغو روایاتو سره سمون خوري چي ټول ئي جنرال «انتي پَتر Antipater » ته د الکسندر د مرګ د دسیسي د مشر په توګه نغوته کوي.

انتي پتر د الکسندر له مور د مقدونيي امپراتیرس اولمپیاس «*Olympias* » سره لفظي شخړه کړې وه چي پایله ئـي د مقدونيي د نائب السلطنه په توګه د جنرال انتي پتر په برطرفه کېدلو واوښتله.

له دغـهٔ مهاله وروسته ول چي د الکسندر مور اولمپیاس، د الکسندر ناسکه ورور «فیلیپ ارهیداپوس *Phillip Arrhidaeus* » وواژهٔ، لږ موده وروسته ئـي خپل لمسی د الکسندر زوی، څلورم الکسندر چي د روښاني / رخشاني زوی او د سلطنت وارث وو له روښاني سره یو ځای په ۳۱۱م. ز. وواژهٔ. مخکي له دې چي هلنیستي نړی ړنګه او په څلورو برخو وویشل سي، لومړی د «ځایناستي توب مدعیان» یا «دایادوخوی *Diadochi*» له یو بل سره لاس او ګریوان سول ورپسي د هلنیستي نړۍ ستړواکي په دغو څلورو برخو وویشل سوه :

د مصر سلطنت بطلیموس ته، د منځنی آسیا او بین النهرین سلطنت د سلوکي سلطنتي کورنی ته، اناتولیه د اتالید کورنی ته او مقدونیه د التیغون «ژباړونکی» یا انتیګونیه Antigonid سلطنتي کورنی ته ورسېدل.[۱]

ستر الکسند د مرګ پر بالښت پروت



له الکسندر وروسته - ګریکو باختري ستړواکي

د الکسندر د سپارهٔ لښکر سپهسالار او تر ټولو نامتو او برجسته جنرال «سِلیوکس *Seleucus* » په ۳۱۲م. ز کال کي خپل سلطنت په بابیلیون کي ټینګ او د لومړي ځل لپاره ئـي ځان د سلوکي ستړواکي لومړنی امپراتور اعلان کړ؛ نوموړي په ټولي

۱ - Tanner, Stephen.  Afghanistan; A Military History from Alexander the Great to the War Against Taliban. Da Capo press/Perseus Books Group; ۲۰۰۲ and revision ۲۰۰۹: Chapter “The Mongols”.  P. ٥٤

بې رحمۍ او ظلم د خپل سلطنت لمن پراخه کړه او منځنۍ اناتولیه، فارس، «لونت Levant یا اوسنۍ سوریه»، بین النهرین، افغانستان او معاصر تورکمنستان ئـې د خپل سطنت برخه وګرځول.

د سلیوکس احفادو ۲۷۵ کاله په ګریکو باختریک سلطنت کې واکمني وکړه او د واکمنۍ لړۍ ئې په ۶۳م. ز کال کې هغه مهال پای ته ورسېده چې د هند د موریا د کورنۍ ستروا‌ک چندراګوپتا Chandragupta ومنله چې «له بابلیون څخه به» د سلیوکس له یوې شهزادګۍ سره واده وکړي؛ دا د وادهٔ یو ډول حدسي یا فرضي «قرار داد» وو چې د سلوکي ستروا‌کۍ او د چندرا ګوپتا موریا تر منځ وسو.

د یوهٔ هلینستي سلطنت په توګه، **ګریکو باختریک سلطنت د پېژندل سوې نړۍ په ختیځې وروستۍ برخې کې پروت وو چې له بهارتیانو «هندوستانیانو» او کوچي ګاوندیو او چینایانو سره ئـې نـېږدې اړیکي لرې؛ دا ادعا ددوی د مسکوکاتو او د سوداګریزو توکو د راکړو ورکړو او پراخېدو له مخې په ډاګه کېدای سي.**

**ددوی هنر د خپل مهال تر ټولو عالي او ظریف هنر وو، په «اوسبتوري Ostbora» (معاصر افغانستان کې آی خانم) کې موندل سوې مجسمې د همدې مدعا د تصدیق یوه صادقه بېلګه ده. ددغهٔ هنر د اصالت او ښکلا لمن د ګریکو باختریک د وروستني سلطان په له منځه تللو توله نـهٔ سوه بلکه دداسې هنر دوام ددوی د «یوژي Yuezhei» ځایناستو او کوشانیانو د مهال په هنرې کې په ځرګنده ځلېږي.**

د موریا د سلطنتي کورنۍ د بنسټ ایښودونکی چندراګوپتا لمسي آشوکا Ashoka بودایي دین په لویدیځ کې له معاصر افغانستانه نیولې تر ختیځ یعنی بنګله دیش پورې خپور کړ.

د روایاتو له مخې، کله چې آشوکا پر «کالینګا Kalinga د معاصرهندوستان اودیسه ایالت – ژ» چې یو ډیموکراتیک سلطنت وو او پر خپل استقلالیت ئـې ویاړ کاوهٔ یرغل وکړ، نو داسې یوه خونړۍ جګړه ئـې پیل کړه چې په کې سل زره سرتیري او ملکي وګړي ووژل سول او یو سلو پینځوس زره تنه نور کسان له دې سیمې څخه په جبر او زور وایستل سول. د جګړې له پای ته رسیدلو وروسته آشوکا د وران ښار د کنډوالو د لیدلو تکل وکړ، آشوکا له ورانۍ، سوځېدلو کورونو، او د زر هاوو بې لاسه او پښو سپاهیانو او ملکي وګړو له اجسادو پرته بل څه ونـهٔ لیدل. د انسان پر ضد د انسان د غچ اخیستونکي سبعي طبعیت د لیدنګ دې صحنې هماغه جنګ پالی او جنګیالی آشوکا په سوله پال او زغمناک او د بودایي دین په یوهٔ پیاوړې واکمن بدل کړ. خو له دې سره سره هغه «دهرما Dharma – د هندو بودایي دین قانون – ژ» چې آشوکا خپور کړ د «بشام *Basham*» په وینا له آره د بودایي دین قانون نـهٔ وو.[۲] **داسې ښکاري چې په تأریخي پېښو کې د تأریخ لیکونکو پټه لاسوهنه کله نا کله زموږ حواس لالهانده کوي، خو په دقیق بیان که ووایو نو د زمان له غوښتنو سره د برداشتونو او تعابیرو همغږي کول او د تأریخي پېښو بل ډول ځلول او یا د روایاتو کېښدل «فرسایش» دي چې اکثریتو انساني نښرغاندو یا پدیدو ته شکل ورکوي.**

په دې پسې د **اسلام** دَور ته راځو؛ د حضرت رسول اکرم «ص» له رحلت وروسته د **اعرابو** یوازې یوې دېرش زره کسیزې ډلې د یوهٔ دفاعي او مخنیوونکي اقدام په لړ کې د فارسیانو پر سل زره کسیز لښکر چې ښـهٔ په وسلو او فیلانو سمبال وو برید وکړ، فارسیانو تکل درلود چې د ګوابښ په لومه کې پراتـهٔ ښار «قادیسي» «عراق» باندې یرغل وکړي. د جګړې له نښتلو درې ورځې وروسته، د ساساني درییم یزګرد، د نائب السطنه رستم تر بولنې لاندې د فارس لښکر درې وړې سو.

د فارسي لښکر بولندوی رستم ژوندی ونیول سو خو کله ئـې چې د تښتـېدلو هڅه وکړه نو سر ئې له تن څخه غوځ سو. د اوومې پېړۍ په پای کې ول چې د اعرابو لښکرو د افغانستان پر لور پرمختګ وکړ. د لښکر یوه ضلعه په سیستان کې راځرګنده سوه چې کندهار ونیسي او بله ضلعه ئـې د هرات او بلخ د نیولو پر لور وخوځېدله.

---

۲ - Basham, A.A., The Wonder that was India, ۱۹۵٤

کله چې د مسلمانانو لښکر د بلخ ښار ته ورسېد د بلخ له ښکلي ښار سره مخامخ سو، **هغۀ بلخ** چې د شپږو مايلو په اوږد والي لويه جنګي کلا، اوږده او لوړ ديوالونه ئې درلودل، دې ته په کتلو ئې د بلخ ښار د ام البلاد «د ښارونو د مور» په نوم ونوماوۀ. سره له دې چې افغان قومونو د اعرابو د نيواک پر وړاندې خپلې جګړې ته دوام ورکړ خو د اتمې پېړۍ په لړ کې د عباسيانو د خلافت پر مهال د افغانستان پرګنو د اسلام دين په ارادي ډول چې لمن ئې تر بخارا او سمرقند پورې غځېدله ومانۀ او له هغۀ مهال وروسته له سولې برخمن او د رنسانس او د علم د ودې دور ئې پيل کړ. د الپتګين په نامۀ يوۀ تورکي مربيي په نيشاپور کې د خپلو ساماني واکمنو پر وړاندې پاڅون وکړ خو کومه بريا ئې تر لاسه نۀ کړه. الپتګين د غزني ښار ته را وتښتېد او دلته ئې د غزنوي سلطنتي کورنۍ بنسټ کښېښود.

د غزنوي سلطنتي کورنۍ دريم سلطان، **محمود** وو چې په ۹۹۸ز کال کې ئې د پاچاهۍ تاج پر سر کښېښود او داسې له فضل او کمال ډکه امپراتوري ئې جوړه کړه چې لمن ئې تر اکسوس «آمو»، خراسان او د کسپين Caspian د سمندرګي تر شاو خوا پورې غځېدله. د کابل ښار په سويل کې دغزنوي سلطنت پلازمينه، دغزني ښار د علم، ادب او هنر په زانګو بدل سو، په همدې پير کې ول چې فردوسي «شهنامه» وليکله او دعلم دډګر ستر پوه او جامع العلوم البيروني دهند په هکله خپل کتاب «***تحقيق ما للهند من مقولة مقبولة فی العقل أو مرذولة***» وليکۀ؛ د البيروني کتاب دهند د دودونو په هکله ده چې د همدغۀ کتاب په اسيَت يا سبب د هند پېژندنې پلار او لومړنی انتروپولوجست پېژندل سوی دی. کينيډي *Kennedy* ليکي: «دهغه "البيروني" ورتيا تر ډېره په خپل ژور اړخ کې د روئيت وړ په نښرغاندو يا پديدو او په انسان او طبعيت کې څېړنه وه. د ساينس په نړۍ کې البيروني په ذاتي ډول د علومو هغو څانګو ته راښکون درلود چې د دقيقو رياضياتي محاسباتو ايجاب کوي. البيروني په خوارزم کې سترګې نړې ته غړولې دي خو افغانستان، تورکمنستان او وزبيکستان هر يو مدعی دی چې البيروني په دوی پورې منسوب دی.[٣]

د شپږمه برخه پای

نور بيا

د دی ليکنی د لمړی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_١.pdf

د دی ليکنی د دويمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٢.pdf

د دی ليکنی د دريمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٣.pdf

د دی ليکنی د څلورمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٤.pdf

د دی ليکنی د پنځمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٥.pdf

د افغانستان دائمی بيطرفی (شپږمه برخه)

zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٦.pdf

---

٣ - Kennedy, E.S. (١٩٧٥-٠٦-٢٦). "The Exact Sciences". In Frye, R. N.; Fisher, William Bayne. *The Cambridge History of Iran: The period from the Arab invasion to the Saljuqs*. Cambridge University Press. p. ٣٩٤.